# اسلام، ملي دولت رد کړی او اسلامي امت یوازې د واحد او ځواکمن خلافت دولت تر چتر لاندې متحد کېدلی شي!

(ژباړه)

**د خلافت په واحد دولت کې یووالی د بېلابېلو ملي دولتونو له وېش سره توپیر لري:** د اسلامي نړۍ پر اقتصادي او امنیتي ستونزو سربېره مسلمانان نن ورځ په ۵۷ کمزورو ملي دولتونو وېشل شوي. د مسلمانانو تر منځ د اسلامي امت د یووالي په اړه بحثونه ورځ تر بلې زیاتېږي، ترڅو د امت قدرت او دبدبه ځواکمنه شي او د هغو ستونزو حل پیدا کړي، چې اوس ورسره لاس و ګرېوان دی. د امت یووالی په دې معنا دی، چې امت باید یو واحد دولت ولري، چې په نړۍ کې تر بل هر دولت لوی وي، یو واحد پوځ او یوه واحده خزانه ولري، چې د ولایتونو تر منځ یې هېڅ پوله او مرز نه وي ... په داسې حال کې به زیات شمېر ځوانان، د اسلامي خاورو ځواکمن پوځونه او له ثروت او پانګې ډکې خاورې له خلافت دولت سره یو ځای شي. هغه وخت به د کرنې تولیدات زیاتېږي، طبعي سرچینې او پراخې او بېلابېلې انرژۍ به رامنځه شي او خلافت به د اسلامي نړۍ ټولې سوداګریزې او سمندري لارې په خپل واک او کنټرول کې واخلي.

اسلام یوازینی کړۍ ده، چې ځانګړی یووالی رامنځته کوي. همدا اسلام دی چې د یوه واحد امت په توګه مسلمانان له نورو امتونو او قومونو څخه بېل معرفي کوي او د هغوی تر منځ د نژاد، رنګ، قبیلې، قوم، ملت او هېواد پر اساس هر ډول وېش او بېلتون ردوي ... اسلام پر اسلامي امت د واحد دولت جوړول چې خلافت دولت دی، واجب کړي دي او د ټول اسلامي امت لپاره د یوې واحدې سرچینې سلطه (د خلیفه واک) په رسمیت پېژني. اسلام د مسلمانانو د دولت او واک وېش حرام کړی دی، هغه که تر هر نامه لاندې وي. پر همدغه اساس د اسلامي دولت مفهوم د ملي دولت له مفهوم سره ډېر توپیر لري.

**ملي دولت په اصل او اساس کې له اسلام سره ټکر لري:** د ملي دولت مفهوم د مسیحي اروپا له تاریخ او عقیدو څخه را ټوکېدلی؛ یعنې له اسلام سره په بشپړه توګه ټکر لري او دغه مفهوم د اروپا د مسیحي دولتونو تر منځ له دېرش کلنې مذهبي جګړې وروسته رامنځته شو. دغو دولتونو لومړی په خپلو کې د هوکړو په اړه خبرې اترې پیل کړې، چې په پایله کې یې د "وستفالیا" سوله رامنځته شوه او دغه جګړه په ۱۶۴۸م کال پای ته ورسېدله. دغه پیل د نوي ملي دولت د ظهور لپاره و، چې اروپایي ستونزې او شخړې پای ته ورسوي.

په غرب کې پانګوال دولتونه د ملي دولت پر مفهوم ولاړ دي او هغه داسې چې: ملت پر دې باور دی چې حاکمیت د دوی دی او په دې توګه دولت د خپل ځان ګڼي. هر ملت د دغه مفهوم په چوکاټ کې تعرفېږي. امت په غربي مفکوره

کې ممکن د يوه واحد بنسټ او يا د ډېرو نورو لاملونو لکه؛ جغرافيې، تاريخ، قوميت، ميراث او ژبې پر اساس معرفي شي.

د ملي دولت مفهوم په اساس کې فاسد دی، ځکه له امت څخه د ناسم درک پر اساس ولاړ دی. امت به د ژوند په ډګر کې يوازې هغه وخت د يوه امت په توګه را څرګند شي، چې په همدې توګه د امت مفاهيم، باورونه، معيارونه او نړۍ‌ليد هم ولېږدوي؛ په داسې حال کې چې د هغوی تاريخ، جغرافيه، قوميت، ژبه او ميراث دا توان لري، چې د خلکو تر منځ د يوه قوم د ګډو ځانګړتياوو په رامنځته کولو کې اغېزناک وي، خو د امت په جوړولو او د هغه په ژوند کې د واحد نړۍ‌ليد او ليدلوري په جوړولو کې خاص رول نه لري. د يوه امت د جوړولو لپاره يوازينۍ سمه لاره دا ده، چې امت بايد د يوې ګډې مبدأ او اصل پر بنسټ جوړ شي. پر همدغه اساس له امت څخه سم تعريف يوازې د هغه په ګډه ايډيولوژۍ پورې تړاو لري. سربېره پر دې ملي دولت ستونزو او شخړو ته د پای ټکی نه دی ايښی، بلکې هغوی يې په نوې بڼه رامنځته کړې دي. په حقيقت کې همدا شخړې د ملي دولتونو تر منځ دي، چې ټوله نړۍ يې له ستونزو، سياليو، شخړو او جګړو سره مخ کړې ده او نړيوالو جګړو ته يې لاره هواره کړې ده.

**د مليت پالنې او ملي دولتونو د فساد زيانونه:** د غرب د ادعا خلاف ملي دولت ډېرو شخړو او جګړو ته لمن وهلې ده او د دوو لويو نړيوالو جګړو لامل و. د ملي دولت مفهوم له دې څخه راځي، چې يو ملت دې پر نورو ملتونو غوره وي او يو نژاد دې پر نورو نژادونو واک ولري؛ هغه فکر چې المان، فرانسې، روسيې، انګليس او ډېری غربي دولتونو، ملتونو او استعمارګرو له ځان سره درلود. د همدغو ملي دولتونو د ستونزو او شخړو پر بنسټ، نن ورځ د روسيې او اوکراين تر منځ جګړه او همدارنګه د امريکا او چين تر منځ اختلاف روان دی.

ملي دولت د امپراتورۍ د استعماري پراختيا لپاره د لا ډېرې لېوالتيا لامل شوی دی. کله چې په اروپا کې نويو راټوکېدلو ملي دولتونو (د ملي دولت د منلو پر اساس) سيمه‌ييزه او اقليمي پراختيا نشوای کولی، نو استعماري پراختيا ته يې مخه کړه؛ هغه څه چې د ډېرو ويجاړيو لامل شوه. ښه بېلګه يې اسلامي نړۍ ده، چې دغه استعمار پکې تر نن ورځې پورې دوام لري، خو بڼه يې معاصره ده او د مستقيم نظامي اشغال پر ځای يې د سياسي او اقتصادي استعمار لاره غوره کړې ده. البته واقعيت داسې دی، چې اوسنی نوی استعمار، ښايي د هغه نوې افراطي او پرمختللې بڼه وي او د غرب په تاريخ کې به د مخکينيو دورو په پرتله تر ټولو بده دوره وي.

ملي دولت پر استعمار سربېره په خپل وېش او تفرقې خپرولو سره اسلامي امت ته ډېر زيانونه اړولي دي. په داسې حال کې چې مسلمانان فکر کوي، چې ملي دولت دوی ته له استعمار څخه ازادي ورکوي؛ خو په حقيقت کې يې مسلمانان ذليل او کمزوري کړي دي. د عرب او ترک د مليت په سبب عربانو قيام وکړ او ځانونه يې د حکومتي مسوليت په برخه

کې د ترکانو له رهبرۍ څخه وایستل او په دې توګه د بالکان سیمه له عثماني خلافت څخه بېله شوه او الله سبحانه وتعالی کفار زموږ پر چارو واکمن کړل. ان په دې وروستیو کې پاکستان د خپلو ملي ګټو لپاره له امریکا څخه د افغانستان پر ضد ملاتړ وکړ. پر همدغه اساس سعودي عربستان، سوریې، ترکیې، کوېټ او اماراتو پر عراق باندې د امریکا له برید څخه ملاتړ وکړ او همدا لامل دی چې د اسلامي خاورو اوسنیو حکامو د کشمیر او فلسطین د ازادۍ لپاره له قتال او مبارزې څخه لاس اخیستی دی.

هو، بشریت د ملي دولت په سبب ډېر زیانونه لیدلي او بشریت باید پر هغه ځانګړي مفهوم تدبر وکړي، چې اسلام یې له امت، ورورۍ، یووالي او دولت څخه وړاندې کوي او د مسلمانانو په مشرۍ د نوي نړیوال نظم په توګه دې د اسلام په لوري حرکت وکړي.

**مسلمانان هغه واحد امت دی، چې ایمان یو موټی کړي دي:** مسلمانان د خاورې، قبیلې، نژاد، هویت او ژبې پر اساس یو واحد امت نه دي؛ بلکې اسلام د ملي پالنې، ملي هویت، ملي نژاد، ملي ګټو او ملي دولت له غربي مفاهیمو سره ډېر توپیر لري. مسلمانان یو واحد امت دي، چې د اسلام په واسطه یو موټی شوي دي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿**وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ**﴾ [آل‌عمران: ۱۰۳]

**ژباړه:** *د الله په رسۍ منګولې ټینګې کړئ او متفرق کېږئ مه.*

دغه ایت بیانوي چې مسلمانان باید په یوه واحد ټولي کې او د یوه واحد حاکمیت تر چتر لاندې سره متحد شي. ابن کثیر د دغه ایت په تفسیر کې وایي: «هغوی ته (الله سبحانه وتعالی) په یووالي امر کړی او له تفرقې څخه یې منعه کړي دي.» او په بل ځای کې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿**إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ**﴾ [حجرات: ۱۰]

**ژباړه:** *مومنان د یو او بل وروڼه دي.*

قرطبي رحمه الله د دغه ایت په تفسیر کې وایي: «یعنې (مومنان) په دین او حرمت کې (سره وروڼه دي)، نه په نسب کې؛ له همدې امله ویل کېږي، چې د دین وروري د نسب له ورورۍ څخه غښتلې ده. د نسب وروري د دین په توپیر سره له منځه ځي، خو دیني وروري د نسب په توپیر سره له منځه نه ځي.» رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**هَذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ** صلى الله عليه وسلم **بَينَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُؤْمِنِينَ مِنْ قُرَيشٍ وَيثْرِبَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ فَلَحِقَ بِهِمْ وَجَاهَدَ مَعَهُمْ أَنَّهُمْ أُمَّةٌ وَاحِدَةٌ دُونَ النَّاسِ**» (رواه البيهقي في السنن الكبرى)

**ژباړه:** *دا د محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لخوا کتاب دی، د قریشو او یثرب د مسلمانانو او مومنانو تر منځ او هر هغه څوک چې له دوی څخه یې پیروي کړې، له دوی سره یو ځای شوي دي او له هغو سره یې جهاد کړی (باید پوه شي)، چې دوی له ټولو خلکو بېل یو واحد امت دی.*

هو، اسلامي امت په اصل کې یو واحد امت دی او د هغوی تر منځ باید اسلامي وحدت رامنځته شي؛ خو د دوی تر منځ سیاسي یووالی د خلافت په تاسیس سره رامنځته کېدلی شي. بلخوا د یادونې وړ ده چې اسلامي دولت په مدینه کې یو ملي دولت نه و؛ بلکې پر یوه واحد امت باندې واکمني او حاکمیت و. اسلامي امت متحد او یو موټی مومنان وو. د قبیلو او قومونو پر توپیر سربېره، تاریخ پر دې شاهد دی چې اسلام څه ډول د دریو لویو وچو خلک په ایمان سره متحد کړل او هغوی یې اسلام ته پر مخلص او وفادار واحد امت بدل کړل.

**مسلمانان باید د نژاد، قومیت او ... پر اساس متفرق نشي:** اسلام د نژاد، قبیلې، قوم، ژبې او ... پر اساس د تفرقې او تبعیض ټولې بڼې ردوي؛ لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خطبة الوداع کې داسې وفرمایل:

«**يا أيها النَّاسُ ألا إنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ، وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ، ألا لا فَضْلَ لِعَرَبِى على عَجَمِى، وَلا لِعَجَمِى عَلَى عَرَبِى، وَلَا أَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ، ولا أَسْوَدَ على أَحْمَرَ، إِلَّا بِالتَّقْوَ**» (رواه الإمام أحمد)

**ژباړه:** *اې خلکو پوه شئ، چې ستاسو رب یو دی او دا چې یو پلار لرئ، نو پام مو وي چې عربي پر عجمي او عجمي پر عربي غوره نه دی، همداسې سور پر تور او تور پر سره غوره نه دی، مګر په تقوا سره.*

«**إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَةَ الْجَاهِلِيةِ وَفَخْرَهَا بِالآبَاءِ، مُؤْمِنٌ تَقِى وَفَاجِرٌ شَقِى، أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ. لَيدَعَنَّ رِجَالٌ فَخْرَهُمْ بِأَقْوَامٍ إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ فَحْمِ جَهَنَّمَ أَوْ لَيكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجِعْلاَنِ الَّتِى تَدْفَعُ بِأَنْفِهَا النَّتْنَ**» (رواه أبو داود)

**ژباړه:** *الله تعالی د جاهلیت د وخت تکبر او پر پلرونو (قومونو) ویاړ له تاسو څخه ایسته کړی دی (تاسو یې ترې منعه کړي یاست) سړی به یا پرهېزګار مؤمن او یا به بدمرغه او نافرمانه فاجر وي. تاسو ټول د ادم اولاد یاست او ادم له خاورې څخه و. خلک باید خامخا پر خپلو قومونو ویاړ پرېږدي، ځکه پر قومونو ویاړ کوونکي خلک د جهنم سون توکي*

*دي او که نه (که پر قومونو فخر کول پرېنږدي) نو د الله تعالی پر وړاندې به تر هغې ګونګوټې (توري کوچنۍ حشرې) ډېر سپک او ذليل شي چې په خپله پزه چټلي تېلوهي.*

په حقيقت کې الله سبحانه وتعالی بشر د بېلابېلو قبيلو او ملتونو په توګه پيدا کړی دی، ترڅو يو او بل سره وپېژني، نه د دې لپاره چې په خپلو کې تبعيض او غوره‌والی وکړي؛ بلکې د خلکو تر منځ د غوره‌والي معيار تقوا ده. دا هغه مسله ده چې يوازې الله سبحانه وتعالی ترې خبر دی؛ لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾** [حجرات: ۱۳]

**ژباړه:** *اې خلکو! موږ تاسو له يوه سړي او يوې ښځې (ادم او حوا) څخه پيدا کړي يئ او بيا مو تاسو په قومونو او قبيلو بدل کړي يئ، ترڅو يو او بل وپېژنئ. له شکه پرته چې د الله په نزد په تاسو کې تر ټولو غوره انسان پرهېزګاره کس دی. الله په هر څه خبر او پوهېدونکی دی.*

**د اسلام او ورورۍ له اړيکې پرته بلې هرې اړيکې ته دعوت کول، لويه ګناه ده:** اسلام د قوم او قبيلې لپاره دعوت کول رد کړي او هغه دعوت يې خطرناک ګڼلی، چې مسلمانان متفرق او کمزوري کوي او د همدغه دعوت په لار کې مرګ د جاهليت د مرګ په څېر دی. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«**مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عُمِّيَةٍ يَدْعُو عَصَبِيَةً أَوْ يَنْصُرُ عَصَبِيَةً فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَةٌ**» (رواه مسلم)

**ژباړه:** *څوک چې د عصبيت د غيرت تر بيرغ لاندې ووژل شي (په داسې حال کې چې) عصبيت ته دعوت کوي او د عصبيت د نصرت لپاره هڅې کوي، د جاهليت په مرګ مړ شوی دی.*

نووي رحمه الله د دغه حديث په شرحه کې د عصبيت په اړه وايي: «يعنې هغه څوک چې د دين د نصرت لپاره نه غوسه کېږي، بلکې د عصبيت لپاره غوسه کېږي؛ عصبيت دا دی چې يو کس په ظلم کې له خپل قوم څخه ملاتړ وکړي.» پر همدغه اساس پر موږ مسلمانانو واجب دي چې قومي دعوتونه پرېږدو او يوازې د الله سبحانه وتعالی پر رسۍ منګولې ټينګې کړو؛ ځکه زموږ د ځواک او قدرت يوازينۍ لاره همدا ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم (د مسلم رحمه الله په روايت) د قوم او قبيلې پر اساس غوره‌والی داسې منعه کړی دی:

«**اقْتَتَلَ غُلاَمَانِ، غُلاَمٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَغُلاَمٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَنَادَى الْمُهَاجِرُ أَوِ الْمُهَاجِرُونَ يا لَلْمُهَاجِرِينَ. وَنَادَى الأَنْصَارِى يا لَلأَنْصَارِ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ** صلى الله عليه وسلم **فَقَالَ: "مَا هَذَا، دَعْوَى أَهْلِ الْجَاهِلِيَةِ؟!"**» (رواه مسلم)

**ژباړه:** *دوو غلامانو (ماشومانو) پخپلو کې جګړه وکړه، یو یې له مهاجرینو او بل له انصارو څخه و، مهاجر غلام (ماشوم) مهاجرین راوبلل او انصاري غلام (ماشوم) انصار راوبلل، (دا مهال) رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرون راووت او ویې فرمایل: «دا د جاهلیت رابلل څه شی دي؟!»*

نووي رحمه الله د دغه حدیث په شرحه کې وایي: «دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه دعوت جاهلي دعوت بللی، نو له دغه دعوت څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناخوښۍ هغه (شدت) څرګندېږي. دغه دعوت هغه چاره ده چې جاهلیت (د قریشو جاهلیت) پکې دی، لکه قبیلې چې د دنیا او د هغې اړوند چارو کې له یو او بل سره مرسته کوي. هغه مهال به جاهلیت خپل حقونه د عصبیت پر اساس او د قبیلو (د اړیکې او واقعیت) له مخې ترلاسه کول؛ خو اسلام راغی او دغه موضوع یې له منځه یووړه او مسایل یې د شرعي احکامو پر اساس حل او فصل کړل.»

هغه څه چې د جزیرة العرب دښمنې قبیلې یې پر یوه ټغر سره راټولې کړې، نسب نه و؛ بلکې اسلام و، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم تعصب په کلکو ټکو رد کړ. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**مَنْ تَعَزَّى عَلَيكُمْ بِعَزَاءِ الْجَاهلِيَةِ فَأَعِضُّوهُ بِهَنِّ أَبِيهِ وَلَا تُكَنُّوا**» (رواه أحمد)

**ژباړه:** *څوک چې تاسو ته د جاهلیت د وخت په تسلیت سره تسلیت ووایي، له هغه سره داسې چلند وکړئ، چې پلار ته یې سپکاوی وشي او تاسو ذلیل نه شئ.*

ملا علي قاري رحمه الله د دغه حدیث په شرحه کې وایي: «(من تعزی) یعنې یو څوک په خلاصو سترګو ځان ته د جاهلیت د وخت په تسلیت سره نسبت وکړي؛ یعنې د خپلې کورنۍ، پلورونو او نیکونو په نسب وویاړي.»

**اسلام د نژاد، قبیلې او ملت پر اساس ډلې جوړول حرام کړي دي:** ابن مسعود رضی الله عنه وایي: «څوک چې په ناحقه د خپل قوم ملاتړ وکړي، د هغه اوښ په څېر دی چې (په څاه کې) ولوېږي او بیا یې له لکۍ څخه کشوي.» (سنن ابی داود) او امام خطابي په (معالم السنن) کې وایي: «د (ابن مسعود رضی الله عنه) د خبرې معنا دا ده، چې دغه ډول کس د ګناه په (څاه) کې لوېدلی او هلاک کېږي؛ ځکه کله چې اوښ په څاه کې ولوېږي او په لکۍ لخوا سره یې د را ایستلو هڅه وشي، معنا دا چې د ژغورلو هېڅ لاره نه لري.»

شافعي رحمه الله وايي: «څوک چې په خپلو خبرو کې عصبيت ښکاره کړي، له هغه سره انس (عادت) وکړي او د هغه لپاره دعوت وکړي؛ که څه هم د هغه په لاره کې په جنګ کې ځان قربان نه کړي، خو بيا يې هم شاهدي نه منل کېږي؛ ځکه تر کومه ځايه چې زه پوهېږم، هغه حرام عمل يې کړی، چې د مسلمانو علماوو تر منځ د هغه په اړه هېڅ اختلاف نشته دی.» د الله سبحانه وتعالی په دغه قول سره، چې فرمايي: ﴿**إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ**؛ *له شک پرته مومنان د يو او بل ورونه دي.*﴾ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې خبرې سره، چې فرمايي: «**وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا**؛ *او د ورونيو په څېر د الله بندګان شئ ...*» استناد کوي. (سنن الصغير بيهقي)

بدرالدين عيني حنفي (۸۵۵ هـ.ق مړ) په "عمدة القاري شرح صحيح البخاري" کې وايي: «د دې خبرې "مَا بَال دَعْوَى الْجَاهِلِيِة؟... د جاهليت په لوري د دعوت اهميت څه دی؟ ..." معنا دا ده چې يو او بل د قبيلوي ارزښتونو په لوري را ونه بولئ؛ بلکې د يوه واحد دعوت په لوري يې را وبولئ او د اسلامي په لوري يې راوبولئ. وروسته وايي: د دې اهميت څه دی؟ يعنې هغو له څه شي سره مخ شول او دليل يې څه دی؟ (چې د جاهليت په لوري يې رابولي) او د دې خبرې "دَعُوهَا...*پرې ايږدئ* ..." معنا دا ده چې دا خبرې پرېږدئ او دغه دعوت مه کوئ. وروسته يې د پرېښودلو حکمت بيا کړی او فرمايي: "فَإِنَّهَا خبيثة...*ځکه هغه بد دی*" يعنې د جاهليت لپاره دغه دعوت چټل دی؛ همدارنګه بد، ناوړه، منفور او مضر دی؛ ځکه د جاهليت لپاره دعوت په ناحقه قهر او د باطل لپاره جګړه رامنځته کوي او پايله يې يوازې دوزخ ته تګ دی.» همدارنګه په يوه حديث کې داسې راغلي:

«**من دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيِة فَلَيسَ منا وليتبوأ مَقْعَده من النَّار**»

**ژباړه:** *څوک چې د جاهليت لپاره دعوت وکړي، له موږ څخه نه دی او ځای به يې په دوزخ کې وي.*

**پر مسلمانانو واجب دي چې واحد خليفه ولري:** اسلامي امت سربېره پر دې چې له نورو ملتونو څخه يو بېل امت دی، يو واحد امت دی چې د يوه خليفه تر حاکميت لاندې په يوه واحد دولت کې ژوند کوي. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«**وَإِنَّهُ لاَ نَبِی بَعْدِی، وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فَتَكْثرُ،قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: فُوا بِبَيعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ**» (رواه مسلم)

**ژباړه:** *له شک پرته له ما وروسته به بل پيغمبر رانه‌شي، له ما وروسته به ډېر خلفاء راشي، وويل شول: هغه مهال موږ ته په څه امر کوئ؟ ويې فرمايل: له لومړي او بيا له لومړي بيعت (تل له هغه لومړي کس سره بيعت وکړئ، چې د خليفه په توګه بيعت اخلي) سره وفا وکړئ.*

نووي رحمه الله د دغه حدیث په شرحه کې وايي: «د دغه حدیث معنا دا ده چې که چېرې له یوه خلیفه سره تر بیعت وروسته له بل خلیفه سره بیعت وشي، نو لومړی بیعت سم دی او باید ورته ژمن پاتې شئ او دویم بیعت باطل دی او ژمنتیا ورته حرامه ده. همدارنګه د دویم خلیفه لپاره د خلافت غوښتنه حرامه ده. مهمه نه ده چې له دویم خلیفه سره دې علماوو او پوهانو بیعت کړی وي او له لومړي خلیفه سره دې ناپوهانو بیعت کړی وي. دا هم مهمه نه ده چې هغه دواړه کسان چې بیعت ورسره شوی، په یوه ښار کې دې وي او یا دې په دوو ښارونو کې وي او یا یو دې په هغه ښار کې وي چې په هغه کې پخوانی خلیفه و او بل دې په بل ښار کې وي.»

له ابن اسحاق څخه روایت دی چې ابوبکر رضی الله عنه په خپله خطبه کې وفرمایل: «د مسلمانانو لپاره روا نه ده چې دوه امیران ولري؛ که داسې وشي، نو په چارو او احکامو کې یې اختلاف رامنځته کېږي، د مسلمانانو ټولی متفرق کېږي او تر منځ یې شخړه پیدا کېږي. هغه مهال بیا سنت تر پښو لاندې کېږي، بدعت غالبېږي او فتنه پراخېږي. هېڅوک داسې حق نه لري.» له همدې امله عمر رضی الله عنه د دریو لویو وچو د مسلمانانو خلیفه و؛ هغه څه چې د هغه وخت په ډېرو ابتدايي امکاناتو کې ممکن وو؛ نو اوس به د ټېکنالوژی، معلوماتو او هوایي سفرونو په عصر کې ولې امکان نه لري؟

**مسلمانانو ته روا نه ده چې په یوه وخت کې دوه خلفاء ولري:** امام شافعي رحمه الله په خپل کتاب (الرسالة) کې وایي: «کوم څه چې مسلمانان پکې د نظر یووالی لري، هغه دا دي چې خلیفه او امام باید یو وي، قاضي باید یو وي او امیر باید یو وي.» امام ماوردي په خپل کتاب (احکام السلطانیه) کې وایي: «که چېرې د امامت عقد له دوو امامانو سره په دوو ښارونو کې وشي، د دواړو امامانو امامت نه کېږي، ځکه د اسلامي امت لپاره دا روا نه ده، چې په یوه وخت کې دې دوه امامان ولري.» او ابن حزم (۴۵۸هـ.ق، مړ) په خپل کتاب "مراتب الاجماء" کې وايي: «په دې کې همنظره دي، چې د مسلمانانو لپاره روا نه ده چې په ټوله نړۍ کې دې په یوه وخت کې دوه داسې امامان وي، چې له یو او بل سره دې یا موافق وي او یا هم مخالف، یا دې دواړه په یوه سیمه کې وي او یا هم په دوو بېلو سیمو کې.»

دا شرعي حکم د هغه وخت لپاره دی، چې دوه خلفاء د اسلام پر اساس پر مسلمانانو حکومت وکړي؛ نو د هغه حالت حکم به څه وي، چې لسګونه حاکمان د اسلام خلاف پر مسلمانانو حکومت کوي، مسلمانان متفرق کوي او پر څو دولتونو یې وېشي؟!

**د مسلمانانو د واحد واک او سلطې وېشل په قطعي او لازمي ډول منعه دي:** پر مسلمانانو لازمه ده چې واحد خلیفه ولري، د دوی متفرق کول او وېشل لویه ګناه ده. د قدرت او سلطې د یووالي خوندیتوب په اسلام کې یو اساسي امر دی، ان تر دې چې د هغه لپاره قتل روا دی. همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه فرمايي:

«**إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَينِ فَاقْتُلُوا الآخَرَ مِنْهُمَا**» (رواه مسلم)

**ژباړه:** *که چېرې له دوو خلفاوو سره بيعت وشو، وروستی (دويم) خليفه يې ووژنئ.*

نووي رحمه الله د دغه حديث په شرحه کې فرمايي: «علماء په دې اړه د نظر اتفاق لري، چې په يوه وخت کې له دوو خلفاوو سره د خلافت عقد کول روا نه دي، که څه هم دارالاسلام پراخ شوی وي او يا نه وي پراخ شوی. د حرمين شريفين امام په خپل کتاب «الارشاد» کې فرمايي: «زموږ اصحابو ويل: د خلافت عقد د دوو کسانو لپاره روا نه دی» او وايي: «زما په نظر په يوه ځای کې د دوو کسانو لپاره عقد کول روا نه دي او پر دې امر اجماع شوې ده». همدارنگه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«**فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَهِي جَمِيعٌ، فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ**» (رواه مسلم)

**ژباړه:** *هر څوک چې غواړي دغه امت په داسې حال کې وووېشي، چې يو موټی دی، هغه په توره ووهئ، که هر څوک وي.*

نووي رحمه الله د دغه حديث په شرحه کې وايي: «په دغه (حديث) کې له هغو کسانو سره د جنگ امر شوی، چې د امام پر وړاندې قيام کوي يا غواړي چې د مسلمانانو تر منځ تفرقه او يا هغې ته ورته بل څه رامنځته کوي. دا ډول کسان بايد له خپل دغه کار څخه را وگرځول شي او که چېرې يې لاس نه اخيست او شر يې له وژل کېدو پرته پای ته نه رسېد، نو بيا دې ووژل شي.»

په اسلامي امت کې اصل دا دی چې ټول بايد تر يوه واحد قدرت او سلطې لاندې وي، چې د خلافت له قدرت او سلطې څخه عبارت دی او هر څوک چې وغواړي هغه په کوچنيو رژيمونو او هېوادونو ووېشي، نو د هغوی لپاره شرعي حکم وژل دي.

**لنډه دا چې خلافت د اسلامي امت د يووالي لپاره يوازينۍ عملي لار ده او بس:** يوازې د اسلام ستر دين دی، چې هغو تلپاتې شخړو ته د پای ټکی ايږدي، چې ملي دولت رامنځته کړې دي. د اسلام دين د ورورۍ هغه قوي اړيکه جوړوي، چې د بشريت د ربښتيني هدف پر اساس ولاړه ده (چې هغه د الله سبحانه وتعالی عبادت دی) او د خلکو تر منځ هغه درز چې د نژاد، قوم او ملت پر اساس رامنځته شوی، د ايمان په زور له منځه وړي.

اسلام د اسلامي امت لپاره يو واحد واک او سلطه غواړي او تفرقه او وېش يې حرام کړي دي. همغه د راشده خلافت سلطه ده، چې انشاءالله ډېر ژر به را وگرځي؛ هغه مهال که الله سبحانه وتعالی وغواړي، نو خپل نصرت به را ولېږي او

په عملي ډګر کې به سره متحد شو. ډېر ژر به دغه سلطه په یوه اسلامي خاوره کې د اسلام او اسلامي ورورۍ پر بنسټ رامنځته شي، نه د قومیت پر اساس. ډېر ژر به د نبوت پر منهج خلافت په پوره جدیت سره، د اسلامي نړۍ ټولې سیمې د ځواکمن واحد دولت تر چتر لاندې سره یو ځای کړي او ټول مسلمانان به له اندونیزیا څخه تر المغرب پورې ایماني ورورۍ او دوستۍ ته راوبولي؛ هغه څه چې اسلام ورته را بللي دي. خلافت به د ملي دولتونو د مرزونو د له منځه وړلو لپاره هڅه وکړي، هغه مرزونه چې مسلمانان یې متفرق او له ډېر وخت راهیسې کمزوري کړي دي.

**له الوعی مجلې څخه**

**شمېره: ۴۴۸-۴۴۹**

**د ۱۴۴۵هـ.ق ، جمادی الاول- جمادی الثاني چې د ۲۰۲۳م له ډسمبر او د ۲۰۲۴م له جنوري سره سمون لري**

**لیکوال: مصعب عمیر – ولایه پاکستان**

**ژباړن: صهیب منصور**